Preview (1 / 10) - ketabton.com

# درد ته ځوابونه

لیکوال: پیتریک لونډا
ژباړن: وصي ابهام



درد ته ځوابونه

لیکوال: پیټریک لونډا
ژباړن: وصي ابهام

ډیزاین: طیب سکون
0788858691

# ANSWERS TO PAIN

**Author:** patrick lunda
**Transalate:** Wasi Ibham

دا کتاب د کمال په اړه نه دی، د زغم په اړه دی. د دې لپاره نه دی چې له درده تېښته وښیي، د دې لپاره دی چې څنګه یې وګټې. دا د مقاومت، باور او د هغه خاموشه ځواک په اړه دی، چې په غوږ کې درته دا زمزمه کوي: "لا دې هم کار پای ته نه دی رسېدلی."

نو که د ژوند په تیاره څېرکي کې یې یا د بل داسې چا تر څنګ ولاړ یې چې په همدې ډول حالت کې دی، دا پاڼې دې ته لیکل شوې چې در وښیي: په درد کې لا هم مانا شته. ته لا هم دلته یې او دا په دې مانا ده چې ستا کیسه پای ته نه ده رسېدلې.

د درد ځوابونو ته ښه راغلې.

راځه! چې د درملنې سفر پیل کړو.

EHSAS PUBLISHER
SAHAR PUBLICATION

Preview (2 / 10) - ketabton.com

# درد ته څواپوڼه

ليکوال: پاتريک لونډا

ژباړن: وصي ابهام

Preview (3 / 10) - ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


**درد ته ځوابونه**

| | | |
|---|---|---|
| **لیکوال** | :: | **پاتریک لونډا** |
| **ژباړن** | :: | **وصي ابهام** |
| **خپرندوی** | :: | **احساس کتابخپرنځی** |
| **د کتاب ډیزاین او کمپوز** | :: | **وصي ابهام** |
| **چاپ وار** | :: | **لومړی** |
| **چاپ شمېر** | :: | **زر ټوکه** |
| **چاپ کال** | :: | **۱۴۰۴ ل. (۲۰۲۵م.)** |


**د چاپ حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.**

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# په دې کتاب کې څه دي؟

دا کتاب چې د افریقا په جنوب کې د «زامبیا» هېواد د یوې غریبې طبقې د ژوند رښتیني کیسې دي، موږ ته راښيي چې که د ژوند لاره هر څومره اغزنه او له ستونزو او سختیو ډکه ده؛ خو په دې ستونزو کې ډېرې ښکلاګانې او د ژوند د ښېګڼو رازونه پټ دي، یوازې دا بسنه کوي چې خپل لید بدل کړو او ورته ځیر شو.

په ژوند کې ډېر داسې شیان شته چې زموږ د خوښ ژوند ستر دلیل کېدای شي. دا چې خپل ژوند د غم او خفګان په بندخونه کې تېروو، دا به څومره ښه وي چې د خوشحالۍ لپاره یوه پلمه ومومو او له بلې خوا د نورو د خوښۍ او هیلو لامل شو.

دا کتاب راته وايي چې که موږ د ژوند ښکلي حقیقتونه ـ که هر څومره لنډ وي هم ـ له خلکو سره شریک کړو، هغوی ته به د هیلو او ځواک انګیزه ورکړو او په بیا راپورته کېدو کې به ورسره مرسته وکړو. کتاب له انسان او انسانیت سره د مینې، یو بل سره د مرستې او د یو بل د اورېدو لپاره خوږې خبرې لري. د زامبیا هېواد د انسان ستونزه زما د وطن د هر کس له ستونزې سره ورته ده، هغوی چې صبر کولی شي، بیا راپورته کېدلی شي، ما او تا یې هم کولی شو.

په پای کې دا وایم چې ژوند له خپلو ټولو ستونزو سره ـ سره په کولو ارزي او په دې باید پوه شو چې مرګ نه پای دی او نه حل لاره.

راځئ چې خپلو دردونو په ځواک او مینې ځواب ورکړو. د دردمنو غږ واورو، ورسره و اوسو، خبرې ورسره وکړو، د یوازیتوب احساس یې له منځه یوسو. انسانیت له هر څه لومړی وګڼو او د بل انسان درد خپل درد وګڼو. که کتاب کومه ګټه درته رسولې وي یا یې د ژوند کولو

Preview (5 / 10) - ketabton.com

انګېزه درکړې وي یا په کې کومه ستونزه وینې؛ نو د اصلاح په موخه راته په لاندې ایمیل ادرس پېغام پرېږده.

Wasi.ibham1996@gmail.com

په درناوي.

وصي ابهام

Preview (6 / 10) - ketabton.com

# لړلیک


**عنوان** **مخ پاڼه**

سریزه ........................................ ۱
د کتابې تر شا ښځه ........................................ ۳
کله چې دې مینه بېرته راوګرځوي ........................................ ۸
د ټکسي چلوونکي ژوند ........................................ ۱۳
پورونه او ناچارۍ ........................................ ۲۶
د ایوب زغم ........................................ ۳۷
د پلار جګړه ........................................ ۳۹
د بیا ځل رڼا بنسټ ........................................ ۴۷
د لمبو خوراک او بیا زیږېدل ........................................ ۵۳
کله چې مرګ دروازه ټکوي ........................................ ۶۳
د بریا شاوخوا سیورې ........................................ ۶۹
کله چې ځمکه وچه شوه ........................................ ۷۳
د ګاونډي ژوند چې له کرونا وروسته د تل لپاره بدل شو........................................ ۷۸
وروستۍ خبرې ........................................ ۸۵

Preview (7 / 10) - ketabton.com



# سریزه

د نړۍ په هر ګوټ کې، د ښارونو له شوره د کلیو تر چوپتیا داسې ډېر انسانان شته چې د زړه خاموشه زخمونه یې د وجود وینه خوري. ځینې یې د موسکا تر شا پټوي او ځینې د ترلو دروازو تر شا. ښایي هېڅکله یې درد درک نه کړې؛ خو هو، ډېر ژور، رښتیني او نه زغمل کېدونکي زخمونه شته. دا کتاب د همغوی لپاره لیکل شوی دی او بې له شکه ستا لپاره هم دی، ځکه ته هم له همدې کسانو یې.

"درد ته ځوابونه" یوازې د کیسو ټولګه نه ده. دا کتاب هنداره، څراغ او لاره ده. هنداره ځکه ده چې په دې کیسو کې ښایي د خپل ژوند یوه برخه ووینې. څراغ ځکه دی چې دا پاڼې د هغو کسانو له رڼاګانو ډکې دي چې تر ټولو تورې درې یې وهلي دي او بیا یې څوکې ته د راپورته کېدو ځواک موندلی او لاره ځکه ده چې یو څوک په کې د لوري او منزل په لټه دی او ښایي همدې تجربو کې هغه ځواب وي چې د زړه له تله یې په دعا کې غوښتلو.

له هغو نیولې چې له خیانت، بېوزلۍ، ځورونې او غمه ژوندي پاتې شوي، تر هغو چې له مرګ سره مخ شول او بیا یې هم ژوند ته مانا وموندله هر څه په کې دي. د دې کتاب کیسې څرګندې، رښتینې او ژور انساني بوی لري. دا د "زامبیا" کیسې دي؛ خو حقیقت یې د نړۍ د هر انسان حقیقت دی. له هغو سره به په کې وپېژنې چې ژوند سترې کړل؛ خو مات یې نه کړل. ځینو نږدې وو له ژونده ځان خلاص

Preview (8 / 10) - ketabton.com



کړي. ځینو هر څه له لاسه ورکړل؛ خو ټولو داسې څه وموندل چې د ژوند کولو هیله یې ورکوله.

دا کتاب د کمال په اړه نه دی، د زغم په اړه دی. د دې لپاره نه دی چې له درده تېښته وښيي، د دې لپاره دی چې څنګه یې وګټې.

دا د مقاومت، باور او د هغه خاموشه ځواک په اړه دی چې په غوږ کې درته دا زمزمه کوي: "لا دې هم کار پای ته نه دی رسېدلی."

نو که د ژوند په تیاره څپرکي کې یې او یا د بل داسې چا تر څنګ ولاړ یې چې په همدې ډول حالت کې دی، دا پاڼې د همدې لپاره لیکل شوې چې در وښيي: په درد کې لا هم مانا شته. ته لا هم دلته یې او دا په دې مانا ده چې ستا کیسه پای ته نه ده رسېدلې.

د درد ځوابونو ته ښه راغلې.

راځه! چې د درملنې سفر پیل کړو.

Preview (9 / 10) - ketabton.com



# د کتارې تر شا ښځه

ژوند لـه داسـې ډېـرو شـېبو ډک دی چـې د پېښـېدو پـر وخـت وړې ښکاري؛ خو کله چې شـاته وګـورې، پـوهېږې چـې دا د هغـو کوچنیـو اشارو نښې وې چې درته وايي: ژوند دې تر دې هـم سـتره مانـا لـري. کلـه کلـه لـه کلونـو وروسـته انسـان وپـوهېږي چـې هغـه وېرونکـی ماسپښین، یا هغه عجیبه پېښه د یوې لویې کیسې پیل و.

اته کلن وم. د نېډولا ښار د کابوشي ناحیې د یـو عـادي کـور ماشـوم، نری لکه وچه لښته، پر تن مې د ښوونځي خړ یونیفورم و چې راباندې غـټ و او تـور ککـړ باټـا بوټـان مـې پـه پښـو و. د "دامبـو" لـه لـومړني ښوونځي رخصت شوم او د کور پر خـوا روان وم. ملګـري مـې "موکیـا" راته وویل: "راځه! تر کوره راسره لاړ شه، جامې بدلوم، بیـا بـه زه تـا تـر کوره ورسوم."

دا کار عادي و. ماشومان به تل له ښوونځي ډله، ډله کور ته ستنېدل. خندا، ټوکې، حتی کله کله به یې په دې شـخړه وه چـې د چـا پنسـل ښکلی دی؛ خو هغه ورځ بدله وه.

همدا چې د ده د کـلي کـوڅې تـه ورسـېدو، د سـپو غـپا مـو واورېـده. داسې وحشي او درنده غپا وه چې د بدن وېښـتان مـو نیـغ شـول. سر مې پورته کړ، دوه لـوی سـپي مـې ولیـدل چـې زمـوږ پـر لـوري منډه راوهي. دا هماغه ډول سپي و چې په زړو کمپونو کې سـاتل کېـږي او کتارې یې له زنګ وهلو اوسپنیزو بیلرونو او سیمونو جوړې وي. ښکاره وه چې څښتن یې ښه نه وو تړلي.

Preview (10 / 10) - ketabton.com



بې له دې چې فکر وکړو، منډې مو کړې. زه یوې خوا او موکیا بلې خوا ته وتښتېد. د سپو غپا لا پسې تېزه شوه. د دوی د پښو دربا مې شاته حسوله چې حتی ځمکه یې خوځوله. لاره رانه ورکه وه، بس په منډه وم. مخې ته مې یوه لوړه فلزي کټاره وه چې د فلزي ۲۱۰ لیټرو بیلرونو له پرې کولو او یوځای کولو جوړه وه. ښایي دوه متره لوړوالی یې لرلو. ښکاره ده چې عادي اته کلن ماشوم له داسې کټارې ټوپ نه شي وهلی؛ خو په هغه ورځ ادرنالین، وېره... هر څه چې و، د سوچ وخت یې رانه کړ. یوازې مې ټوپ کړ. نه پوهېږم څنګه؛ خو له کټارې اوښتی وم. هغې غاړې ته د چا په انګړ کې راپرېوتم. پښې مې رپېدلې، زړه مې داسې درزا کوله، لکه ځوک چې په لرګي بیلر وهي. دا ځای کوچنی باغچه وه. سبزیجات په کې کرل شوي وو. "ریپ"، "امپوا" او څو وچې د جوارو ټانټې په کې وې.

د کور مخې ته برنډه کې ځوانه ښځه ناسته وه. سر یې پورته کړ، ډاره شوې وه. یاد مې دي، سپین پوستکی یې لرلو، ښایي شل کاله عمر یې و، ماشوم ته یې جامې ور اغوستې. داسې یې راته کتل، لکه له اسمانه چې راغلی وم.

په حېرانۍ یې وپوښتل: " ایوه موچه؟ (ته څنګه دلته راغلې؟) له کومه راغلې؟"

یاد مې نه دي چې څه ځواب مې ورکړ. بس په چټکۍ د کور شاته ورغلم، دروازه مې ومونډله او وتښتېدم.

کلونه مې بیا دا پېښه یاده نه کړه، تر دې چې هېره مې وه؛ خو چې لوی شوم، ښوونځی مې خلاص کړ، کار مې پیل او واده مې وکړ، دا کیسه مې بیا بیا ذهن ته راتله.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/bCcfnP7uUNx

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.